مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۱/۳۰

# حوصله

راغلي مي ده خولې ته، ستا كتو ځني توبه
پښتون يم ځنګه وكړمه، پښتو ځنـي توبه

وعده مې کړې تاسره، د مینـې او وفا
اوس نه کیږې اشنا، تیرو شیبو ځنې توبه

درکړې مې پخوا دې، په اخلاص ددوستۍ لاس
شي ګرانه په دوستۍ کې، تلوراتلوځني توبه

هر ځل یې تیر وتلې، د اغیارو په لمسون
تا ونـه کړه ترننـه، تیروتـو ځنـي تـوبـه

ړانده نه هم ورکیږې، یوکرت دلاس امسا
بینا یې خو ته نـکړې، ورکیـدو ځنې توبه

بـنـکارېږې راته داسې، پرسولې یې غماز
چې نه کوې بې عقلـه، ګنـاهو ځـني توبه

نو پوه شه! نوره نشته، حوصـله د کلیوال
کوي در سره یوځاې، اوسـیدو ځـني توبـه.

نومبر/۲۸/۲۰۱۸
تورنتو ـ کانادا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ